**Permanent Mission of Afghanistan to the United Nations**

**د جلالتمآب نصیر احمد فایق وینا**

**په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د دایمي استازولۍ سرپرست**

**د یوناما د مأموریت د تمدید د پرېکړهلیک د تصویب په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په غونډه کې**

**۱۵ جون ۲۰۲۶**

آغلې رئیسې،

تل د خوښۍ ځای دی چې په ملګرو ملتونو کې ښځې د رهبرۍ، پرېکړهنیونې او مدیریت په لوړو مقامونو کې وینو.

موږ د امنیت شورا له غړو څخه د دې پرېکړهلیک د متفقانه تصویب له امله مننه کوو چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) مأموریت یې د یوه بل کال لپاره وغځاوه. همدارنګه د چین ولسي جمهوریت څخه، چې د دې پرېکړهلیک قلموال هېواد و، د دې مهم پرېکړهلیک په اړه د اجماع د رامنځته کولو لپاره د هغه د رهبرۍ او هڅو ستاینه کوو.

په داسې حال کې چې افغانستان لا هم له څو اړخیز سیاسي، بشري، اقتصادي او د بشري حقونو له بحران سره مخ دی، د ملګرو ملتونو دوامداره حضور یو نه انکارېدونکی ضرورت پاتې دی. یوناما د سولې او ثبات د پیاوړتیا، د سیاسي خبرو اترو د اسانتیا، د بشري مرستو د همغږۍ، د بشري حقونو د څارنې او راپور ورکولو، او د افغانستان د خلکو وضعیت ته د نړیوالې ټولنې د پاملرنې د دوام په برخه کې حیاتي رول لري. دا پرېکړهلیک په داسې وخت کې تصویبېږي چې په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت لا هم د خرابېدو په حال کې دی.

یوازې څو ورځې وړاندې، د جون په ۶ او ۷ مه، د طالبانو د تش په نوم امر بالمعروف محتسبانو په هرات کې لسګونه ښځې او نجونې د هغوی د ظاهري بڼې او لباس له امله په خپلسري ډول ونیولې. کله چې د سیمې اوسېدونکو د دغو نیونو پر وړاندې سولهییز اعتراض وکړ، طالبانو پر هغوی ډزې وکړې چې له امله یې یو شمېر ملکي وګړي، د یوې ښځې او یو ماشوم په ګډون، ووژل شول. له هغې وروسته طالبانو په هرات ولایت کې د ټولنیزو فعالانو او د ټولنیزو رسنیو د کاروونکو د پوښتنو، نیونو او زنداني کولو لړۍ نوره هم پراخه کړې ده. یوناما دغه نیونې خپلسرې بللې دي او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکي هم د سولهییزو اعتراض کوونکو پر ضد د زور کارولو په اړه ژوره اندېښنه څرګنده کړې ده.

دا پېښې جلا او استثنایي موارد نه دي؛ بلکې د تبعیض، ځپنې او سیستماتیک حذف د هغه پراخ بهیر څرګندونه کوي چې نږدې پنځه کاله کېږي ښځې او نجونې یې له عامه ژوند څخه ایستلې او له زدهکړو، کار، د تګ راتګ له ازادۍ او په ټولنه کې له اغېزمن ګډون څخه یې محرومې کړې دي. د طالبانو د مشر وروستۍ پرېکړه چې په دولتي ادارو کې د هوښیارو

موبایلونو کارول منع کوي، د معلوماتو او اړیکو پر وړاندې له نورو محدودیتونو سره یو ځای، د مخالفو غږونو د چوپولو، د بشري حقونو د سرغړونو د پېټولو او د افغانستان د خلکو د لا منزوي کولو په موخه ده.

له همدې امله، موږ د امنیت شورا له هغه قوي ټینګار څخه هرکلی کوو چې د بشري حقونو، په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو د حقونو د ساتنې او ودې په اړه یې کړی دی، د امنیت شورا د ۱۳۲۵ پرېکړهلیک یادونه یې کړې او د هغو پالیسیو او اقداماتو د لغوه کولو غوښتنه یې کړې چې د افغانستان له نړیوالو بشري حقونو مکلفیتونو، اسلامي ارزښتونو او د افغانستان د خلکو له دودونو سره په ټکر کې دي.

موږ همدارنګه د دې پرېکړهلیک له هغه ټینګار څخه هرکلی کوو چې پر ټولشموله، استازولیز، مشارکتي او ځواب ویونکي حکومتولۍ یې کړی دی. دوامدار سوله او ثبات د حذف او انحصار له لارې نه شي ترلاسه کېدای. یوه تلپاتې سیاسي حللاره د ټولو افغانانو ـ ښځو او نارینه وو، بېلابېلو قومي او مذهبي ټولنو، ځوانانو، مدني ټولنې، سیاسي بهیرونو او معلولیت لرونکو کسانو ـ معنادار ګډون ته اړتیا لري.

په همدې برخه کې، موږ یوناما هڅوو چې خپل مأموریت په بشپړ او بې‌طرفه ډول عملي کړي او په ځانګړي ډول د سیاسي خبرو اترو د اسانتیا او له ټولو بااعتباره افغان لورو سره، که د هېواد دننه وي او که بهر، د تعامل پر پراختیا تمرکز وکړي.

موږ همدارنګه د امنیت شورا د ۲۷۲۱ پرېکړهلیک د پلي کېدو او د یوه بااعتباره، ټولشموله او د افغانانو په مشرۍ د سیاسي بهیر د پرمختګ پر اهمیت ټینګار کوو؛ هغه بهیر چې د یوه مشروع، استازولیز او ځواب ویونکي سیاسي نظام د رامنځته کېدو لامل شي. په دې چوکاټ کې د سرمنشي د یوه وړ او لوړ ظرفیت لرونکي ځانګړي استازي پر وخت ټاکل بنسټیز اهمیت لري. همدارنګه موږ د یوناما د ستراتیژیکي بیاکتنې په اړه د دې پرېکړهلیک له غوښتنې هرکلی کوو او هیله لرو چې سپارښتنې یې د دې مأموریت د اغېزمنتیا او همغږۍ د لا پیاوړتیا سبب شي.

موږ د دې پرېکړهلیک له هغې برخې هم هرکلی کوو چې د بشري مرستو، ټولنیز او اقتصادي پرمختګ، سیمه‌ییزې همکارۍ او د ټولو افغان لورو او نړیوالې ټولنې ترمنځ د خبرو اترو ملاتړ کوي. که څه هم دا هڅې لا هم اړینې دي، خو باید د یوناما د سیاسي او بشري حقونو له مسؤلیتونو سره یو ځای پر مخ یوړل شي.

افغانستان لا هم له جدي امنيتي ننګونو سره مخ دی. د افغانستان په خاوره کې د ترهګرو ډلو دوامداره شتون د افغانستان او همدارنګه د سیمې او نړۍ د سولې او امنیت لپاره د اندېښنې وړ موضوع ده. له همدې امله، موږ د ترهګرۍ ضد هڅو او د امنیت شورا د څار ډلې سره د همکارۍ په اړه د دوامداره پاملرنې هرکلی کوو.

آغلې رئیسې،

په داسې حال کې چې یوناما د خپل مأموریت نوي کال ته داخلیږي، موږ دا اداره هڅوو چې خپل مهم کارونه په بې‌طرفۍ، مسلکیتوب او قاطعیت سره دوام ورکړي. موږ په ځانګړي ډول د بشري حقونو د څارنې او راپور ورکولو، د بشري عملیاتو د ملاتړ، د ټول‌شموله سیاسي خبرو اترو د اسانتیا او د افغانستان د خلکو د سولې، ثبات او هوساینې لپاره د نړیوالو هڅو د پرمختګ په برخه کې د هغې رول ته لوړ ارزښت ورکوو.

د افغانستان خلک لا هم ملګري ملتونه د یوه باوري شریک او د خپلې معاصرې تاریخي دورې په یوه تر ټولو سخت پړاو کې د هیلې د سرچینې په توګه ګوري. موږ له نړیوالې ټولنې غواړو چې د افغانستان په اړه خپل تعامل متحد او پر اصولو ولاړ وساتي. د هېواد د ستونزو د حل لپاره هڅې باید د بشري حقونو درناوي، د ښځو معنادار ګډون، د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې او د یوه ټول‌شموله، استازولیز او مشروع سیاسي راتلونکي د رامنځته کولو پر بنسټ ولاړې وي.

د یوناما د قوي مأموریت په ملاتړ کې د امنیت شورا یووالی یو مهم پیغام لېږي. د افغانستان خلک د ملاتړ، کرامت، حساب ورکونې او داسې راتلونکي مستحق دي چې پر حقونو، فرصتونو او هیلو ولاړ وي، نه پر وېرې او ځپنې.

په پای کې، موږ د امنیت شورا له غړو، د ملګرو ملتونو له سرمنشي، د یوناما له مشرتابه او د ملګرو ملتونو له ټولو هغو کارکوونکو څخه مننه کوو چې په خورا سختو شرایطو کې خدمت کوي. د هغوی کار لا هم حیاتي او اړین دی، او د هغوی امنیت، د تګ راتګ ازادي او د افغانستان په ټولو برخو کې بې‌خنډه لاسرسی، د افغان ښځینه کارکوونکو په ګډون، باید په بشپړه توګه درناوی او خوندي شي.

مننه.